پښتو ژباړه: رحمت آریا
۲۰۲۳/۰۸/۱۹

# د افغانستان سیاسي - تأریخي - جغرافیوي ژورنال

## پینځم توک

دوه سوه او پینځوسمه پرله پسې برخه

## کندهار

ایډیت:
ډاکټر لودویګ آدمک

AKADEMISCHE DRUCK- u. VERLAGSANSTALT
GRAZ – AUSTRIA

1980

**سام نړي**: ۲۲ – ۳۱، ۲۳ – ۶۷ «الف»: دا یو کوتل دی چې د هر ډول وسلو د لیږد لپاره مناسب دی، دا کوتل هغي لارې ته لار ورکوي چې د هغو غرونو له منځه تیریږي چې د نخاس د غرنی لړۍ د لویدیځې منتهی الیه په شمال کې واقع دي. د همدې کوتل له لارې د نخاس له منځه د شادیخاک د کوتل له لارې د کدني د سیند عمومي لاره تیریږي او مخ په شمال لویدیځ لور تر معروف پورې ځغلي. «بن».

**سَندر زي**: دا د دراني بارکزیو یوه څانګه ده. «ببسکو» *په دې نوم یو کلی د ثلثون د سیند پر غاړې په ۲۴ – ۳۱، ۷ – ۶۷ «ن» کې واقع دی.*

سنګر: وګورئ: شاه جوی

* **سنګي**: ۳ – ۳۳، ۴۷ – ۶۵ «ن»: دا د روزګان په ولایت کې د خارک په مقابل لوري کې د هلمند د سیند پر غاړې یو کلی دی.

* **سنګ مون: سنګ موم**: ۴۱ – ۳۳، ۸ – ۶۶: «ن»: دا د روزګان په ولایت کې د تمازان د شمال ختیځ په تقریباً ۶ مایلی کې او د نیلي د سویل په تقریباً ۲ مایلی کې د یوهٔ لښتی پرغاړې یو کلی دی.

* **سنګان**: ۴۷ – ۳۳، ۵۴ – ۶۶ «ن»: دا د روزګان په ولایت کې د رباط د اوبو د بهیر پر غاړه د «ورسال»[1] شمال ته د تللي لارې په اوږدو کې د هلمند د شمال په تقریباً ۳ مایلی کې یو کلی دی.

[1] - Warsal


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

* **سنګر**: ۴۷ – ۳۲، ۳۲ – ۶۶ «ن»: دا د روزګان په ولايت کې د روزګان د شمال لويديځ په تقريباً ۱۱ مايلئ کې له روزګان څخه تر «مر آباد» [2] پورې د تللي لارې پر سر يو کلی دی.

* **سنګر غټ**: ۴۸ – ۳۱، ۵۳ – ۶۷ «ن»: دا د زابل په ولايت کې د کافر ځاه د شمال لويديځ په تقريباً ۱۰ مايلئ کې د براتي ماندي پر غاړې يو کلی دی.

**سنګبـــر**: ۴۶ – ۳۱، ۵۲ – ۶۴ «ن»: دا د خاکِ چوپان د شمال په تقريباً ۸ مايلئ کې او له ميوند څخه تر حيدر آباد پورې د تللي لارې په اوږدو کې يو کوچنی کلی دی. دا کلی د يوۀ کوتل په خولـۀ کې واقع دی چې د کوتل د خولې نښه ئـې هم بللی سو او ويل کيږي چې دا ښه کوتل دی او شمال لور ته د يوې غرنۍ لړۍ له منځه په تيريدلو هلمند ته لاره ورکوي. د ميوند د جګړې په لړ کې دا کلی د سردار محمد ايوب خان سپرو ځواکونو، د يوې يا دوه وو ورځو لپاره نيولی وو. «ستيوارټ، آی. بي. سي.»

**سنګبر**: ۳۲ – ۳۱، ۲۹- ۶۵ «ج»: دا د شاه مقصود د غرنۍ لړۍ لمنې ته نيږدې د خاکريز د درې شمالي خوا کې يو کلی دی. «لينس»

* **سنګچلک**: ۵۸ – ۳۳، ۵۸ – ۶۵ «ن»: دا د روزګان په ولايت کې د روزګان د سيند پر غاړه د خضر «دای کنډي» په شمال لويديځ کې يو کلی دی.

**سنګيسار**: ۳۲ – ۳۱، ۲۹ – ۶۵ «ج»: بيسکو په خپلې شرحي کې سنګِ حصار د هغـۀ کلي يا د کليو د ډلې په توګه يادوي چې له کندهار څخه د دمې نيولې په دوهم ځای کې د هرات له سړک څخه تقريباً ۲۴ مايله ليرې واقع دی او تقريباً ۲۳۸ کورونه لري چې ۷۱۰ تنه «الکوزي، پوپلزي، اسحق زي، اڅکزي، نورزي او غلزي» وګړي لري. دا کلی د کمپ وهلو په يوې سيمې کې ويل سوی او ظاهراً داسي بريښي چې دا دې د حوضِ مد د د کمپ سيمه وي، د «سنګيسار» يا «سنګ سار» [3] نوم عملاً د قريه جاتو د فرعي علاقي يوې د پام وړ برخې ته ويل کيږي چې په همدې نامـۀ نهر ئـې خړوبوي. د سنګيسار د نهر له سره د هرات سړک تيريږي ، دا نهر د سنجري کمپ او بيا د عاشقانو له کلي څخه په اوښتلو د حوض مد د له سړک سره موازي پرمخ ځي چې ور ها خوا ئـې د سنګيسار په ويش کې وروستنی کلی کاريز عطاء دی او همدې کلي ته نيږدې نهر هم پای مومي. د سنګيسار د نوم تسميوي وجهه له يوۀ منفرد غرۀ څخه راغلي ده او ويل سوي چې د دې غرۀ پر سر يو ډبرين بالاحصار وو. دا د حوضِ مد د له لويديځ څخه تقريباً ۲ مايله ليرې واقع دی او يوۀ څرګنده نښه جوړوي او د ارغنداب د درې لپاره د سيګنال ښـۀ ستيشن جوړوي. «ستيوارټ، برون، بيسکو، آی. بي. سي»

* **سنګين**: ۸ – ۳۱، ۸ – ۶۶ «ن»: دا د کندهار په ولايت کې د افغان پولې او د کدني د سيند ترمنځ نيمايي لاره کې په «شنګلون شيله» [4] کې يو کلی دی.

**سنګره**: ۴۷ – ۳۱، ۱۷ – ۶۵ «ج»: لوړوالی: ۴۱۰۰ فيټه. دا د لالک کوتل ته نيږدې د خاکريز د سويل لويديځ په انتها کې يو کلی دی.

**سنجري**: وګورئ: سينځري

---

[2] - Marabad
[3] - Sang Hisar or Sangsar
[4] -Shanglun Shila


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولـئ

**سَنَتِ بارکزی:** ۲۷ ــ ۳۱، ۴۱ ــ ۶۵: دا د ترنک او ارغسان تر منځ د کندهار د سویل په ۲/۱ ۱۰ مایلۍ کې یو کلی دی.

**سَپـَریه:** ــ ۳۱، ــ ۶۵: دا د کشکِ نخود په ولسوالي کې یو کلی دی. «لي چ»

* **سراب:** ۵۴ ــ ۳۲، ۲۵ ــ ۶۵ «ن»: دا د روزګان په ولایت کې د اوبو د یوه بهیر پر غاړې یو کلی دی چې د «کیشې» [5] د سویل لویدیځ په تقریباً ۶ مایلۍ کې د سیرکي ماندې او د اوبو د نوموړي بهیر د یو ځای کیدنې ټکي ته نیږدې موقعیت لري. په دې نوم یو بل کلی د کمیسان د سیند پر غاړه د چورې د شمال ختیځ په تقریباً ۵ مایلۍ کې د روزګان په ولایت کې په ۵۳ ــ ۳۲، ۷ ــ ۶۶ «ن» کې موقعیت لري.

**سرګی:** ــ ۳۱، ــ ۶۸: دا د اینځلان د نالې په لویدیځ کې چې له شماله «شنـهٔ غر» [6] ترې راتاو دی یوه شګلنه دښته ده. داسې ښکاري چې دې دښته کې ځو کلي سته او نسبتاً ښه کرهنه هم په کې سوې ده. «ښ»*په دې نوم یو کلی په ۴۸ ــ ۳۱، ۲ ــ ۶۸ «ن» کې موقعیت لري. دا نوم د «سحرګي» په بڼول هم لیکل سوی دی.*

**سرای:** یا: ساری [7]: ۵۹ ــ ۳۱، ۱۹ ــ ۶۸ «ج»: دا د «کـُـچ خوارهٔ» [8] د شمال په ۲/۱ ۳ مایلۍ کې په هغهٔ ځای کې یو کاریز دی چې سلیمان خیل په کې ژوند کوي او په چم ګاونډ کې ئـې د کرکیلي پټي لري. «بومي معلومات ۱۸۹۴» *په دې نوم یو کلی جلدک ته نیږدې په ۵۷ ــ ۳۱، ۴۴ ــ ۶۶ «ج» کې موقعیت لري. یو بل کلی چوره ته نیږدې په ۵۳ ــ ۳۲، ۴ ــ ۶۶ «ن» کې موقعیت لري.*

**سرک [9]:** ۳۵ ــ ۳۲، ۴۵ ــ ۶۶ «ن»: دا د زابل په ولایت کې د نایک کلي ته نیږدې د ښوی سیند پر غاړه یو کلی دی.

**سرنګ کوهی:** [10]: دا له جت پوټي څخه تر کندهار پورې د تللي لارې په اوږدو کې د دمې نیولو ځای دی. له دې ځایه وابښهٔ ترلاسه کیدای سي او همدا شان ځو داني د ښو اوبو څاهان هم لري. «هنل او روم، له بومي معلوماتو څخه ۱۸۸۱ ــ ۹۶»

* **سربان کلی:** [11]: «ښایي سه ښه ئـې ځاروان کلی وي ــ ژ»: ۱۸ ــ ۳۱، ۳۱ ــ ۶۶ «ن»: دا د کندهار په ولایت کې د سپین بولدک سویل ته د لارې په اوږدو کې د «بالازار» [12] د سویل لویدیځ په تقریباً ۵ مایلۍ یو کلی دی.

* **سربلاغ:** [13]: ۳۹ ــ ۳۲، ۱۶ ــ ۶۷ «ن»: دا د زابل په ولایت کې د شاه جوی په شمال لویدیځ کې د سیاه سنګ په سیمې کې «ریمي» [14] ته نیږدې یو کلی دی.

**سربلند:** ۳۳ ــ ۳۱، ۳۵ ــ ۶۶ «ج»: دا د ۴۰ کورونو یو کلی دی چې د لوړه د سیند پر ښي غاړې واقع او د سرک له لارې له امین کلا څخه ۱۳ مایله لیرې دی، دا کلی د هغهٔ سړک پر غاړې واقع دی چې د ارغسان پر درې منتهی کیږي او په لوړه کې د میر افضل کلي ته ځي او له وچبر غوبرک ۱۲ مایله کښته موقعیت لري.

---

5 - Keshay
6 - Shna Ghar
7 -SARAI Or SARI
8 - Kuchkwara
9 -SARAK
10 -SARANG KUHAI
11 -SARBAN KALAY
12 -Balazar
13 -SARBI LAGH
14 - Rimai


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د کلي په ختيځ کي يو فوق العاده عالي ځای د کمپ لپاره سته، او د مارچ د مياشتي په پيل کي ئـي اوبـهٔ ښي او پريمانه دي او کيدای سي په نورو فصلونو کي دا اوبـهٔ ډيری وي. د سندرزيو او «بکال زيو» [15] له کليو او همدا شان د مير افضل، «توفان زيو» [16] له کيلو او د محمد خان له کلا څخه د اړتيا وړ توکي راټوليدای سي. همدا شان دلته د کلي په ګاونډ کي د اوښ خر لپاره ډير ښـهٔ ځايونه سته. له کندهاره تر وچبر غوبرک پوري د سرک پر شتون سربيره چي پورته مو ورته نغوته وکړه او د همدې کلي له اړخ څخه تيريږي يو بل سرک هم سته چي له همدې ځايه د کندهار – کويټي د سرک پر غاړې ډېرى ته ځي او واټن ئـي د بالا جر له لوړې ورهاخوا ۱/۲ ۴۷ مايله دی. «کليفرډ، مسي» *په دې نوم يو کوتل د سپين بولدک د شمال په تقريباً ۲۰ مايلی کې په ۱۵ – ۳۱، ۹ - ۶۶ «ج» کې موقعيت لري.*

* **سربلند کلی**: ۳۱ – ۳۱، ۳ – ۶۵ «ن»: دا د کندهار په ولايت کي د کشک نخود د سويل په تقريباً ۵ مايلی کي د ارغنداب د سيند پر غاړې يو کلی دی.

* **سربلند**: وګوری: سربلند

**سربريده**: - ۳۱، - ۶۵: دا د کندهارد شمال ختيځ په ۱۲ مايلی کي «ميرشي» [17] ته نيږدې يو کلی دی. «بيسکو»

***سربز**: ۳۷ – ۳۳، ۲۴ – ۶۵ «ن»: دا د روزګان په ولايت کي د «ايسپي بز» [18] کلي ته نيږدې د قره جنګل د سيند د شمال په تقريباً ۸ مايلی کي يو کلی دی.

**سرداني**: - ۳۱، - ۶۶: دا د خوش رود په درې کي له قلات غلزايي څخه د ارغسان تر درې پورې ګواري ته نيږدې له قلات غلزايي څخه ۳۵ مايله ليرې يو کلی دی. «پراير»

**سردار خوشدل خان**: - ۳۱، - ۶۶: دا قلعـهٔ سرخ ته نيږدې د ترنک د سيند پر کيڼي غاړې د کندهار د شمال ختيځ په تقريباً ۲۰ مايلی کي يو کلی دی. «بيسکو» د ګرشک په شمال ختيځ کي *د سردار په نامهٔ يو کلی په ۵۱ – ۳۱، ۴۱ – ۶۴ «ج» کې موقعيت لري.*

**سرِده سفلی**: ۴۲ – ۳۱، ۴۳ – ۶۵: دا د پاتاپ د نهر او د ارغنداب د سيند تر منځ يو کلی دی. د روح آباد، نـَوشي جان، «مياجوی» [19] او د «پنج آَو» نهرونه ټول د سر دِه کلي ته نيږدې له سينده جلا کيږي. «بيسکو»

**سرِده عليا**: ۴۳ – ۳۱، ۴۳ – ۶۵ «ن»: دا د ارغنداب په درې کي د پتاب د نهر پر غاړه په قريه جاتو کي يو کلی دی چي بلافاصله له « شک چاله» [20] پورته واقع دی. «بيسکو» *په دې نوم بل کلی په ۱۱ – ۳۲، ۳۵ – ۶۷ «ن» کې واقع دی.*

* **سرګ**: ۵۲ – ۳۳، ۲ – ۶۷ «ن»: دا د روزګان په ولايت کي د «دِه رنګ» [21] د سويل لويديځ په تقريباً ۱ مايلی کي د هلمند د سيند پرغاړه يو کلی دی.

**سرګاو**: ۵۳ – ۳۱، ۲۸ – ۶۵ «ج»: دا د خاکريز په درې کي د درې په مرکز کي واقع يو کلی دی. «لينس»

---

15 - Bakalzai
16 - Tofanzai
17 - Mirshai
18 - Espibuz
19 - Miajui
20 - Shakchala
21 - Dehrang


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

**سرګري**: ۴۳ – ۳۱، ۵۲ – ۶۷ «ن»: دا یو کلی دی چي توخي غلزي په کي استوګن دي او له «شنو غرونو»[22] کوز، د «ګورابي»[23] د غرنی لړی د لویدیځ په ۴۰ مایلی کي واقع دی. (وګورئ: «غوایمر»[24]) د شنو غرونو لړی د کند د سیند پر غاړي د «دوم» کمپ له تقریباً ۲۰ مایلي واټن څخه له ورایه ښکاري. له دي کلي څخه بهوسه تر لاسه کیدای سي او دلته د اوبو د چیني پریمانـه اوبـهٔ سته. سون توکي په قلت دي. «بن، آی. بي. سي.»

**سرغز**: دا د ارغسان د سیند او د هغـهٔ سیند تر منځ په یوې غرنی لړی کي یو کوتل دی چي له «غوړې مارغي»[25] څخه رابهیري. په دې کوتل باندي د ختلو او کښته کیدلو لاره لږ تر لږه یوه ورځ نیسي. «لمسدن»

**سرګو**: ۲۲ – ۳۰، ۶ – ۶۶ «ن» ؛ دا د غرونو یوه لړی ده چي ۱۵۱۱ متره لوړوالی لري او د ښوراوک په شمال او د «ګوایجه»[26] د کوتل په سویل لویدیځ کي موقعیت لري. دا په ختیځ کي د «خواجه عمران» د اساسي غرنی لړی، لیرې پرتې څانګې دي چي د «شه سته»[27] [ښایي شایسته وي – ژ] دا غرونه له شمال ختیځه مخ پر سویل لویدیځ ځغلي او په یوې پراخې دښتي کي ئـي نفوذ کړی چي له منځه ئـي له «سپین تیجهه»[28] تر ښوراوک پورې سړک تیریږي. د همدې تشي په ختیځ کي د غرونو یوه برخه د سرګو د ختیځ په نوم یادیږي او بله برخه چي لویه برخه ئـي ده د «لویدیځ - سرګو» په نوم یادیږي. لویدیځ سرګو له ریګستان سره جوخت دی، د ریګستان له سترو شګو کښته شګي د وخت په تیریدلو په تولي غرنی لړی لمن کي راټولي سوي دي. د سرګو د سویل په ۴ مایلی کي د «خرما» غرونه دي چي له اساسي غرنی لړی لیرې پرتې څانګې دي؛ د دواړو په منځ کي یوه کوچنی دښته ده چي د «چاوال»[29] په نوم یادیږي او بریښان ئـي د ملکیت ادعا کوي، خو دا دښته اوس د بدوزیو او اڅکزیو په لاس کي ده. له دې ځایه په همدغـهٔ لور کي سرګو د ښوراوک حقیقي حد دی او خرما د بریښانو د سیمي اوسنی حد دی. د دغو غرونو جوړښت کي بلوریني، تیارهٔ ګرانیت ډبرې دي ؛ دا ډبرې کټ مټ هماغه ډبرې دي چي د خواجه عمران د لړی په دې لور کي دي.

د هغي تشي په منځ کي چي پورته مو یاده کړه یو مصنوعي ډنډ دی چي کله نا کله اوبـهٔ په کي راټولیږي خو څوک نـهٔ سي کولای په دغو اوبو او اندازه ئـي ډډه ولګوي. دا ډنډ له «سپین تیجهه» څخه ۲/۱ ۱۹ مایله او د ښوراوک په پوتي کي د احمد خان له کلي ۲/۱ ۱ مایل لیرې دی. دلته سرتیرو کمپ وهلی وو، د دمي نیولو معمول ځای په «سپیني خولي» کي دی چي څو مایله وړاندې موقعیت لري. «میتلند» *اوسنی نقشي دا نوم د «سحرګو» په نوم ښیي.*

**سرِ آب**: دا د ارغنداب په درې کي د دهلي د ولسوالی یوه برخه ده. «بیسکو» په دې نوم د اوبو یو بهیر په ۳۶ – ۳۳، ۲ – ۶۸ «الف» کي موقعیت لري.

**سرِ اسپ**: ۱۴ – ۳۲، ۶ – ۶۷ «الف»: دا د قلات غلزایي د شمال ختیځ په ۹ مایلی کي د دمي نیولو یو ځای دی. «۱۹۰۵»

---

22 - Shna Ghar hills
23 - Gurabai
24 - Ghwaimar
25 - Ghwara Margha
26 - Gwaijha pass
27 - Shasta
28 - Spintijha
29 - Chawal


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

**سریچه:** ۳۸ ـ ۳۱، ۳۲ ـ ۶ «ن»: دا د خشک رود پر ښې غاړه یو کلی دی چې له ارغسان سره د یو ځای کیدلو له ټکیو تقریباً ۱۰ مایله لیرې واقع دی. اوبـهٔ، اوښ څر او د اړتیا وړ توکي او د کمپ یو ښـهٔ ځای دلته موندل کیږي. «ایلیس ۱۸۸۰»

* **سرغندي:** ۱۰ ـ ۳۱، ۲ ـ ۶۶ «ن»: دا د لهار د سیند پر غاړې د غفور د کلي د سویل لویدیځ په تقریباً ۵ مایلی کې یو کلی دی چې د کندهار په ولایت کې له سپین بولدکه تر کندهاره د سرک پر غاړې واقع دی.

**سریکال:** ـ ۳۲، ـ ۶۵: دا د خاکریز په درې کې د شاه مقصود د غرنی لړی شمال ختیځې انتها ته نیږدې واقع دی. «لینس»

* **سرِ مقصود:** ۵۵ ـ ۳۳، ۲۶ ـ ۶۵ «ن»: دا د روزګان په ولایت کې «بیلاو» [30] ته نیږدې په همدې نوم د اوبو د یوهٔ بهیر پر غاړې یو کلی دی.

**سرم «سریم» سوخته ؟:** دا د غلزیو په سیمې کې یو خط الرأس دی، دا خط الرأس د ترنک دره د «ناوې» له درې څخه جلا کوي «وګورئ: سوخته» دا خط الرأس د دښتي له سطحې څخه تقریباً ۱۰۰۰ فیټه لوړ او ډیر ژور نـهٔ دی. په بله برخه کې دا د «روزن زیو» [31] په نوم یادیږي. «براډ فوټ»

**سرکی:** ۵۱ ـ ۳۱، ۴ ـ ۵۸ «ن»: دا په «تره کي تیورې» کې د ټیټو غرونو یوه لړی ده چې د تیورې د سیند له کیڼې غاړې د ۳ مایلو په واټن د «کوسه که» [32] تر دښتي پورې غځیدلې ده. تر سویلي ډډو لاندې ئـې د زړې کلا د کلي کنډوالي دي.

*«بن» په دې نوم یو کلی په ۳۵ ـ ۳۱، ۳۳ ـ ۶۷ «ن» کې موقعیت لري.*

**سرکی سوهي:** ۲۳ ـ ۳۱، ۳۹ ـ ۶۷: دا د الا جرګې د نالې پر غاړې د «تور کتس» [33] د لویدیځ په ۳ مایلی کې د دمې نیولو یو ځای دی چې د رشید له کلا څخه د «پش غبرګې د کوتل له لارې» تر «پسین ډاګ» پورې د لارې پر سر واقع دی. دلته د اوبو یو شمیر ځـاهان سته. «بن» *اوسنی نقشې د «سرکي» نوم نیبي.*

* **سرکار والـهٔ:** سرکار ویاله: ۱۴ ـ ۳۱، ۳۶ ـ ۶۶ «ن»: دا د کندهار په ولایت کې د «سم بوغه» [34] د سویل ختیځ په تقریباً ۵ مایلی کې د کډني د سیند پر غاړې یو کلی دی.

**سرخیل:** دا د کندهار د ختیځ په ۹۰ مایلی کې او د «غرايبي» [35] د کوتل د لویدیځ په ۵۰ مایلی کې د توخی غلزیو په سیمې کې یو کلی دی. دا ګرد چاپیره سیمه نسبتاً ډیره ښه کرل سوې ده. خو اوبـهٔ چې له چینو څخه دي تروې دي. «لمسدن»

**سرکول:** ۶ ـ ۳۳، ۲۹ ـ ۶۶ «ن»: دا د کمیسان د سیند سرچنې ته نیږدې د روز ګان په ولایت کې د «ماني غرهٔ» [36] د شمال ختیځ په تقریباً ۱۰ مایلی کې یو کلی دی.

**نور بیا**
**سرلت....**

**یادونه:** قدرمنو لوستونکو! تاسو تر دغه لینک لاندې د ښاغلی آریا صاحب په آرشیف کې د لمړی ټوک، دوېم ټوک، دریم ټوک او د څلورم ټوک ټولي برخي لوستی شئ.

[30] -Bilaw
[31] - Rozanzai
[32] - Kosaka
[33] - Tor Kats Ala Jirgha Nala
[34] -Sambogha
[35] -Gharaibi
[36] -Manighar



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ